مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۱۳** (از ۲۲ الی ۲۹ حمل ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

### مردم افغانستان و نگرانی از آینده

- وعده‌هایی که تحقق نیافت ........ ۳
- امنیت ........ ۴
- مبارزه با فساد ........ ۴
- بحران اقتصادی ........ ۵
- برنامهٔ مذاکرات صلح با مخالفین ........ ۵
- اختلاف بر سر چهره‌ها ........ ٦
- نتیجه ........ ٦

### اپتا تړون او د سيمه‌ييز اقتصادي پيوستون هڅې

- سيمه‌ييز اقتصادي الحاق ........ ۸
- د اقتصادي الحاق غوښتنې ........ ۸
- افغانستان-پاکستان-هند او اپتا تړون ........ ۹
- د کابل-اسلام آباد وروستی اړيکې ........ ۱۱

## مقدمه

د ملي وحدت حکومت د مشرانو ترمنځ خپلمنځي اختلافات د دې لامل شوي، چې د دغه حکومت د جوړېدو له ورځې راوروسته، ورځ تر بلې د هېواد وضعیت په هره برخه کې د خرابوالي په لور ولاړ شي. په دېرى قضایاوو کې د ولسمشر او اجرائیه رییس ترمنځ جدي اختلافاتو، د هېواد پر اقتصادي او امنیتي وضعیت او ان بهرني سیاست منفي سیورى غوړولى دى.

د دغه حکومت له جوړېدو کابو اووه میاشتې وروسته د ولسمشر او اجرائیه رییس له خوا ورکړل شوې ژمنې نه دي پوره شوې او حتى د حکومت کابینه هم لانه ده بشپړه شوې. دا هغه څه دي، چې افغانان یې د راتلونکي په اړه نهیلي کړي دي. د ملي وحدت حکومت ملت ته کومې ژمنې ورکړې وې او ولې ترسره نه شوې؟ همدارنګه د حکومت داخلي اختلافات پر راتلونکي څه اغېزې ښندي؟

له بله پلوه، په دې وروستیو کې د سیمې د اقتصادي پیوستون لپاره هلې ځلې پیل شوې دي. د پاکستان د سوداګرۍ وزیر کابل ته د یوه رسمي سفر پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانزیټي ستونزو د هواري تازه ژمنې ورکړې. له دې سره هممهاله په کابل کې د هند سفیر له اپتا تړون سره د یوځای کېدو هیله څرګنده کړې، چې دا تړون د پاکستان-افغانستان ترمنځ لاسلیک شوی او اوس تاجکستان هم پکې شامل شوی دی؛ خو په دغه تړون کې د هند شاملېدل د افغانستان لپاره مهم دي. پوښتنه دا ده، چې د سیمې د اقتصادي پیوستون هڅې څومره بریالۍ ښکاري؟ او د پاکستاني چارواکو وروستی سفر به د دواړو هېوادونو ترمنځ په شته اقتصادي ستونزو څه اغېز وښندي؟

د دې اونۍ په تحلیل کې، پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې لولئ:

# مردم افغانستان و نگرانی از آینده



اختلافات داخلی حکومت افغانستان بر اوضاع سیاسی، امنیتی و اقتصادی کشور تاثیرات ناگوار داشته است. از همان آغاز کار موضوع تقسیم قدرت به صورت 50 – 50 مشکل آفرین شد و امروز بعد از حدود هفت ماه، که از عمر حکومت وحدت ملی می‌گذرد، مشکلات روز تا روز گسترده‌تر شده و با گذشت زمان هر روز بیم از آینده بیشتر و امید کمتر می‌شود.

## وعده‌هایی که تحقق نیافت:

رئیس جمهور اشرف غنی وعده داده بود که در مدت 45 روز کابینۀ کارفهم و بدور از فساد تشکیل خواهد داد، با فساد اداری مبارزۀ قاطع را آغاز خواهد کرد و مشکل کابلبانک را که به عنوان یک میراث شوم از دوران حکومت کرزی باقی مانده است، در مدت 45 روز حل خواهد نمود.

اشرف غنی در جریان کمپاین انتخاباتی خویش وعده داده بود تا پروسۀ صلح را با جدیت دنبال نماید، زیرا صلح اولین ضرورت افغانستان برای پیشرفت و بیرون آمدن از وضع ناگوار موجود است.

در توافق میان دو تیم انتخاباتی برای تشکیل حکومت وحدت ملی توافق شده بود تا کمیسیون انتخابات و بخشی از قوانین آن که موجب بحران سیاسی در کشور شده است، اصلاح گردد و این کار تا قبل از زمان فرارسیدن انتخابات پارلمانی تکمیل گردد.

اکنون پس از سپری شدن هفت ماه از عمر این حکومت، هیچکدام از این وعده‌ها تحقق نیافته و با گذشت هر روز فاصله میان رئیس جمهور و رئیس اجرائیه بیشتر می‌شود. تاثیرات ناگوار این حالت بر وضع اقتصادی، امنیتی و سیاسی کشور کاملا محسوس است.

## امنیت:

اختلاف بر سر تعیین افراد در کرسی‌های مهم وزارت دفاع افغانستان و دوام سردرگمی در تصمیم گیری‌های مهم دفاعی کشور موجب شده تا در عملیات‌های نظامی ناکامی‌های آشکار به مشاهده برسد و در مواردی شکست‌های سخت را شاهد باشیم.

عملیات ذوالفقار در ولایت هلمند به گفتۀ وکلا و اعضای شورای ولایتی این ولایت یک عملیات کاملا ناکام بود. فاجعه‌ای که در ولایت بدخشان اتفاق افتاد و ده‌ها پوستۀ نیروهای افغان را طالبان تسخیر کرده و گروه کثیری از سربازان افغان را کشتند، یک شکست تمام عیار بود. عامل این شکست بیش از هر چیز، اختلاف میان اعضای دو تیم در حکومت وحدت ملی است اما طبق معمول دست‌اندرکاران پایین‌رتبه، در نهایت مقصر قلمداد می‌شوند.

## مبارزه با فساد:

به نظر می‌رسد که فساد در حکومت وحدت ملی ابعاد گسترده‌تر از حکومت کرزی به خود می‌گیرد. تنها در یک مورد، یافته‌های یک بازرسی نشان می‌دهد که در قرارداد تیل وزارت دفاع، بیش از دو صد ملیون دالر اختلاس صورت گرفته است.

وعدۀ اشرف غنی مبنی بر اینکه پول‌های غارت شده از کابلبانک را از چپاولگران باز خواهد ستاند، فقط به یک محکمۀ نمایشی و مضحک خلاصه شد که هدف از آن فقط استفادۀ تبلیغاتی بود.

فساد به خاطری نیز در حکومت "وحدت ملی" نسبت به حکومت آقای کرزی گسترده‌تر می‌شود که دو تیم شریک در قدرت، به هیچ وجه حاضر نخواهند بود که افرادی آغشته به فساد، که وابسته به تیم شان هستند، را به پای

محاکمه بکشانند. همین حمایت‌های تیم‌ها از افراد مربوط به خویش، باعث می‌شود فساد در مقایسه با گذشته چند برابر افزایش یابد.

## بحران اقتصادی:

در طول سیزده سال گذشته اقتصاد افغانستان به دلیل حضور نیروهای خارجی، به تزریق پول از خارج به شدت معتاد شده است. زمانیکه بخش بزرگی از این نیروها از افغانستان خارج شدند، تزریق پول کاهش یافت که روی سطح استخدام و در نتیجه عاید مردم تاثیر منفی برجا نهاد.

کاهش ارزش پول ملی در برابر اسعار خارجی می‌تواند تاثیرات ناگواری بر زندگی مردم داشته باشد و دولت برای ثابت نگهداشتن ارزش افغانی مجبور به استفاده از ذخیرهٔ اسعاری محدود کشور است و در مواردی با عرضهٔ دالر به بازار آزاد، سعی در این کار دارد.

در مقابله با این حالت، دولت به بلند بردن مالیات بر سکتور خصوصی دست زده است که مالیات قابل انتقال است. در مالیات انتقالی تاجر و فروشنده مالیه را از جیب خود نمی‌پردازند بلکه این مالیه را بر قیمت اضافه نموده و از مستهلک دوباره به دست می‌آورد. نتیجهٔ این وضع چیزی جز بلند رفتن قیمت‌ها و گسترش فقر در کشور نخواهد بود.

## برنامهٔ مذاکرات صلح با مخالفین:

یکی از وعده‌های اصلی داکتر اشرف غنی پیگیری جدی پروسهٔ صلح از طریق مذاکره با مخالفین بود، اما بعد از رسیدن به قدرت، با این تصور که طالبان وسیله‌ای در دست پاکستان اند به جای تلاش در جهت مذاکرهٔ مستقیم با طالبان، رو به پاکستان آورد. این پروسه که طبق وعدهٔ مقامات پاکستانی قرار بود در اوایل ماه مارچ آغاز شود، تاکنون آغاز نشده است. طالبان نیز مذاکره با حکومت وحدت ملی از طریق پاکستان را رد کردند که در نتیجه این تلاش نیز به بن‌بست برخورد.

## اختلاف بر سر چهره‌ها:

در موارد متعدد، انتخاب چهره‌های کلیدی در پست‌های دولتی موجب اختلاف میان اشرف غنی و عبدالله گردیده است. هرچند در هر مورد گفته می‌شود که اختلاف از طریق مذاکرات حل خواهد شد. اما حتی اگر این اختلافات از راه مذاکره به تفاهم هم برسد، بازهم موجب ضیاع وقت خواهد شد.

یکی از جدی‌ترین اختلافات در این زمینه موضوع کمیسیون اصلاحات انتخاباتی است که روی آن در توافق نامۀ حکومت وحدت ملی توافق شده بود. ریاست اجرائیه در مورد صداقت تیم رئیس جمهور در امر اصلاح نظام انتخاباتی شک دارد.

در هفتمین ماه تشکیل حکومت "وحدت ملی" هنوز دو شریک قدرت قادر به تشکیل کابینه نشده‌اند. پس از آنکه وزرای باقی‌مانده به ولسی جرگه معرفی شدند، کرسی وزارت دفاع ملی هنوز هم مورد اختلاف است. نبود وزیر دفاع و فرارسیدن فصل جنگ طالبان، باعث شد که طالبان دست به عملیات گسترده بزنند و نیروهای حکومتی تلفات چشم‌گیر ببینند.

## نتیجه:

وضع در افغانستان به شدت شکننده است. ظهور گروه‌های تندروتر از طالبان زنگ خطری است که از مدتی قبل به صدا در آمده است و بحران اقتصادی و گسترش فقر می‌تواند زمینه را برای سربازگیری این گونه گروه‌ها مساعد سازد.

پروسۀ صلح که ضرورت اولی این کشور است اکنون شکل نمادین به خود گرفته و در حد پخش شایعات خلاصه شده است، فساد بیداد می‌کند و گسسته شدن شیرازۀ امور دولت، افغانستان را به یک کشور ورشکسته مبدل ساخته است.

در حالیکه مردم به شدت از وضع موجود نگران و از آینده ناامید اند، بعضی از نهادهای بین‌المللی با آمارگیری‌های جعلی مدعی اند که اکثریت مردم افغانستان از وضع موجود راضی و به آینده امیدوار اند. این نهادها از طریق اینگونه دروغ‌پراکنی‌ها، می‌خواهند به مردم در کشورهای کمک دهنده به افغانستان، این پیام جعلی را برسانند که پول مالیات شان که در افغانستان به مصرف رسیده، به هدر نرفته است. اما حقیقت وضع در افغانستان اینست که مردم افغانستان در تحت زعامت اشرف غنی وضع ناگوارتر از دوران کرزی را تجربه می‌کنند.

# اپټا ترون او د سیمه‌ییز اقتصادي پیوستون هڅې




له تېرو پنځو میاشتو راهیسې افغان جګپوړو چارواکو پاکستان ته، او پاکستاني جګپوړو چارواکو افغانستان ته ګڼ سفرونه کړي او د دغو رسمي سفرونو لړۍ لاهم توده روانه ده. په دې موده کې افغان ولسمشر اشرف غني په یوه رسمي سفر پاکستان ته تللی او د پاکستان لوی درستیز راحېل شریف او د پاکستان د استخباراتو مشر هم کابل ته څو ځله سفرونه وکړل.

په وروستي سفر کې، د پاکستان د سوداګرۍ وزیر خرم دستګیر او د خیبر پښتونخوا ایالت اعلی وزیر پرویز خټک کابل ته سفر درلود. د پاکستان د سوداګرۍ وزیر خرم دستګیر د سفر موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ زیاتول، د افغان سوداګرو ستونزې کمول او پاکستان له منځنۍ آسیا سره نښلول ښودل شوې ده. د خیبر پښتونخوا اعلی وزیر هم، د افغان ولسمشر په بلنه له یوه ۲۰ کسیز پلاوي سره کابل ته په دوه ورځني سفر راغی.

پوښتنه دا ده، چې د پاکستان د سوداګرۍ وزیر وروستی سفر د سیمې پر اقتصادي پیوستون یا (integration) او د افغان سوداګرو د ستونزو پر کمولو څومره اغېز ښندلی شي؟

## سيمه‌ييز اقتصادي الحاق:

کله چې د يوې سيمې د هېوادونو ترمنځ د تجارت په مخ کې شته خنډونه راکم کړای شي او د دغو هېوادونو ترمنځ له يو بل سره په مالي تګلارو کې همکاري پيل شي، هغه مهال بيا دا هېوادونه له اقتصادي پلوه له يو بل سره نښلول شوي بلل کېږي.

سويلي آسيا يوه له هغه سيمو څخه ده، چې د سيمه‌ييز اقتصادي پيوستون ډېرې ورتياوې لري؛ خو د سياسي ستونزو له کبله لاهم د نړۍ له هغو وروسته پاتې سيمو څخه ده، چې د سيمې په داخل کې همکاري يې، له نشتوالي سره برابره ده.

که څه هم د سويلي آسيا هېوادونه ګډ تاريخ، ګډ کلتور، ګډې ژبې او له اقتصادي پلوه د يووالي ډېر لاملونه لري؛ خو بيا يې هم ترمنځ خپلمنځي تجارت ډېر محدود دی. د نړيوال بانک د يوې څېړنې له مخې، د سويلي آسيا د سيمې خپلمنځي تجارت د مجموعي تجارت يوازې ۵ سلنه برخه جوړوي؛ خو بل پلو د آسيان (ASEAN) هېوادونو ترمنځ خپلمنځي تجارت د مجموعي تجارت ۲۵ سلنه جوړوي[1]. دا چې ولې په دې سيمه کې اقتصادي الحاق ډېر محدود دی، ستر لامل يې د غړو هېوادونو ترمنځ سياسي اختلافات دي.

## د اقتصادي الحاق غوښتنې:

په افغانستان کې د اشرف غني له واک ته رسېدو سره د سيمې د اقتصادي الحاق په تړاو تمې زياتې شوې. افغان ولسمشر چين ته د سفر پرمهال په "ژېنوا" پوهنتون کې د وينا پر مهال د سيمې په اړه خپل ليدلورى او د افغانستان دريځ روښانه کړ. ولسمشر غني وويل، چې "موږ بايد د طبيعي منابعو پرځای له خپل موقعيت څخه ډېره ګټه پورته کړو"؛ ځکه د ده په باور له تېرو ۵۰ کلونو راهيسې د کانګو هېواد، چې ډېر طبيعي منابع لري، د خپل هېواد په GDP (Gross domestic product) يا ناخالص داخلي توليد کې يې ايله يو ميليارد ډالره

[1] World Bank, Regional Integration in South Asia, 24 March 2014, retrieved at 16 April 2015, see it online:< http://www.worldbank.org/en/region/sar/brief/south-asia-regional-integration>

زیاتوالی راوستی دی. خو په بل اړخ کې سینګاپور، چې هیڅ طبیعي منابع نه لري، د خپل هیواد "GDP" ۴۴ سلنه زیات کړ؛ ځکه نو موږ ته په کار ده، چې له خپل جغرافیایي موقعیت څخه ګټه پورته کړو[2].

پاکستان هم د تجارت په تړاو خپله تګلاره روښانه کړې او په دې اړه یې دا دریځ څرګند کړی، چې خپل تجارت به د منځنۍ آسیا او د آسیان له هېوادونو سره نه یوازې دا چې زیاتوي، بلکې د دوی د پاملرنې لومړیتوب به هم، دغه سیمې وي[3].

د دې ترڅنګ، په کابل کې د هند سفیر "آمر سنها" له طلوع نیوز خصوصي تلویزیون سره په یوه مرکه کې داسې مهال له اپټا سره د یوځای کېدو غوښتنه وکړه، چې د پاکستان د سوداګرۍ وزیر خرم دستګیر کابل ته په یوه رسمي سفر راغلی و. په کابل کې د هند سفیر وویل، هند هیله‌من دی چې په اپټا تړون کې به ګډ کړای شي او په دې اړه یې د افغانستان بهرنیو چارو وزارت ته یو رسمي مکتوب هم استولی دی[4].

## افغانستان-پاکستان-هند او اپټا تړون:

افغانستان په وچه کې محاط هېواد دی، چې له همدې امله له نړۍ سره د تجارت لپاره ترانزیټ ته اړتیا لري، ترڅو خپل توکي د ګاونډیو هېوادونو له لارې نړیوالو بازارونو ته انتقال کړي. د سردار محمد داود خان د صدارت پرمهال له شوروي او ایران سره ترانزیټي تړونونه لاسلیک شول او کله چې سردار محمد داود خان استعفا وکړه او پر ځای یې په افغانستان کې د ډیموکراسۍ لسیزه پیل شوه، نو د افغانستان-پاکستان اړیکې هم په تدریجي ډول د ښه کېدلو په لور ولاړې او بالآخره په ۱۹۶۵ کال کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ ترانزیټي تړون لاسلیک شو، چې وروسته بیا د اپټا په نوم سره یاد شو.

---

[2] په زېنوا پوهنتون کې د اشرف غني د لېکچر بشپړ متن لپاره، وګورئ:
http://president.gov.af/en/news/transcript-of-lecture-by-president-ashraf-ghani-at-xinhua-university-beijing

[3] DAWN, Asean, CARs new trade destinations, says Dastagir, 3 April 2015, retrieved at 16 April 2015, see it online:
http://www.dawn.com/news/1173554/asean-cars-new-trade-destinations-says-dastagir

[4] Tolo News, Exclusive interview with Amar Sinha, the Indian Ambassador to Afghanistan, see it online:<
https://www.youtube.com/watch?v=X7omuT8DmqE>

خو د شورویانو له وتلو وروسته په منځنۍ آسیا کې نوي بدلونونه، د افغانستان د کورنۍ جګړې پرمهال پاکستان ته د ځینې ترانزیټي توکو قاچاق، د افغانستان-پاکستان ترمنځ د پولې پر سر د توکو د لېږد-رالېږد ځایونو د زیاتولو او په کانټینرونو کې د مال لېږدولو اړتیا او ځینو نورو قضایاو له کبله[5] شونې شوه، چې دواړه لوري بیا له یو بل سره کېني او دغه تړون په ۲۰۱۰ کال کې یو ځل بیا نوی کړي. د ۲۰۱۰ کال د افغانستان-پاکستان ترانزیټي تړون له مخې، د پولو پر سر څو بندرونه نور پرانېستل شول او ترڅنګ یې پاکستان ته د منځنۍ آسیا لپاره لاره هم ورکړل شوه. په دغه تړون کې یوه ماده داسې هم وه، چې که اړتیا وه، نو په دغه تړون کې به بدلونونه راوړل شي.

څه موده وړاندې د افغان دولت له ټینګار وروسته پر دغه تړون بیاکتنه وشوه او ویل کېږي چې دا ځل تاجکستان هم په دغه تړون کې شامل شوی او د دغه تړون مسوده د افغانستان-پاکستان-تاجکستان ترمنځ نهایي شوې او د درې واړو هېوادونو توافق پرې شوی دی.[6] له اپټا سره د تاجکستان یوځای کېدل د پاکستان په ګټه دي؛ خو د هند یوځای کېدل بیا د افغانستان لپاره مهم دي.

دا مهال هند هم له اپټا سره د یوځای کېدو غوښتنه کړې او د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت هم له اپټا سره د هند له یوځای کېدو هرکلی کړی[7]. له بلې خوا افغان ولسمشر هم ویلي، چې کابل به له پاکستان سره منځنۍ آسیا ته د رسېدو لپاره هر ډول همکاري وکړي، خو په بدل کې افغانستان هم له پاکستان څخه ورته هیله لري، ترڅو دوی ته د سویلې آسیا په شمول هند ته لاره ورکړي[8]. مګر د اسلام آباد او نوي ډیلي اړیکو ته په کتو سره

[5] Vaqar Ahmed, Afghanistan-Pakistan transit trade agreement, MPRA Paper No. 27157, 30 November 2010, retrieved at 16 April 2015, see it online:< http://mpra.ub.uni-muenchen.de/27157/1/MPRA_paper_27157.pdf>

[6] Customs Today, Pakistan, Afghanistan, Tajikistan near to finalize Trilateral Transit Agreement, 10 April 2015, retrieved at 16 April 2015, see it online:< http://customstoday.com.pk/pakistan-afghanistan-tajikistan-near-to-finalize-trilateral-transit-agreement/>

[7] Express Tribune, Regional trade: Kabul wants Delhi to join Pak-Afghan trade pact, 16 April 2015, see it online:< http://tribune.com.pk/story/870703/regional-trade-kabul-wants-delhi-to-join-pak-afghan-trade-pact/>

[8] ولسمشرۍ ماڼۍ: رئیس جمهور غنی بر همکاری های تجارتی و ترانزیتی میان افغانستان و پاکستان تاکید کرد، په پرلیکه بڼه یې دلته ولولئ:
http://president.gov.af/fa/news/44653

ناشونې برېښي، چې هند د دغه ترون يوه برخه وګرځي او يا هم هندي توکو ته اجازه ورکړل شي، چې د پاکستان له لارې افغانستان ته ولېږدول شي[9]. اسلام آباد له هند سره خپلو خرابو اړیکو ته په اشارې سره ويلي، چې دا به هغه مهال شونې وي، چې هند له پاکستان سره خپل مناسبات عادي کړي.

تراوسه داسې اټکل کېږي، چې اسلام آباد د ستراتيژيکو او امنيتي اندېښنو له کبله هند ته اجازه نه ورکوي، ځکه د جنرال پرويز مشرف له وخت راهيسې پاکستان پر هند ادعا لري، چې په قبايلو او بلوچستان کې د هندي استخباراتو له خوا لاسوهنې کېږي. ترڅنګ يې پاکستان له دې هم وېره لري، چې هسې نه هند ته د لارې له ورکولو سره، هند د افغانستان او منځنۍ آسيا بازارونه قبضه کړي او پاکستان چې په اقتصادي توګه د هند په پرتله کمزوری دی، له تاوانانو سره مخ شي.

له همدې کبله، ترڅو چې د پاکستان-هند او پاکستان-افغانستان اړيکې ښې او په افغانستان کې امنيت او سوله نه وي ټينګ شوي، منځنۍ آسيا له سويلي آسيا سره له ترانزيټي پلوه، نلليکو او تجارتي اړيکو کې نښلول يوازې يوه خوب ته ورته ښکاري.

## د کابل-اسلام آباد وروستۍ اړيکې:

کابل ته د پاکستاني چارواکو سفرونه د دې ښودنه کوي، چې اسلام آباد له کابل سره خپل څه نا څه رغېدلي مناسبات په همدې ډول ښه پرېښودل غواړي. له همدې کبله پاکستان له يوې خوا په تورخم او چمن کې وچ بندرونه جوړوي، ترڅو د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوه اړخيز تجارت زيات شي او له بلې خوا په تورخم کې د افغان سوداګرو کابو ۹۰ سلنه توکي، په ۴۸ ساعتونو کې دننه افغانستان ته لېږدول کېږي. دغه راز داسې برېښي، چې له راروانې جون مياشتې وروسته به د افغان سوداګرو توکو ته له کراچۍ څخه تر پېښور او چمن پورې په رېل کې د انتقالولو اجازه هم ورکړل شي. د پاکستان د سوداګرۍ د وزير خرم دستګير په وينا،

---

[9] د زياتو معلوماتو لپاره ولولئ: اشنا راډيو؛ پاکستان په اپتا کې د هند د ګډون غوښتنه رد کړه، ۱۵ اپريل ۲۰۱۵، په پرليکه بڼه:
http://www.pashtovoa.com/content/pakistan-minister-of-commerce-says-before-joining-india-to-apta-trade-relations-should-be-nornalize-between-india-and-pakistan/2719817.html

پاکستان به تر خپلو پولو پورې سړکونه هم ورغوي. که دا پرېکړې عملي شي، په یقیني توګه به د دواړو لورو ترمنځ خپلمنځي تجارت زیات شي.

د دې ترڅنګ دا لومړی ځل دی، چې اشرف غني د کوزو پښتنو او د خیبر پښتونخوا اعلی وزیر په یوه رسمي سفر کابل ته رابولي. له دې وړاندې حامد کرزي د ژبې له ډیپلوماسۍ کار اخېست او د خیبر پښتونخوا ډېری پښتانه یې، لکه د اسفندیار ولي خان عوامي نشنل ګوند، د اڅکزي ګوند او د افتاب شیرپاو ګوند کابل ته رابللي وو. د خیبر پښتونخوا اعلی وزیر له ولسمشر سره د خپلو خبرو اترو پرمهال ژمنه وکړه، چې له دې وروسته به په خېبر پختونخوا کې هغه افغان کډوال چې راجستر شوي نه دي، نه ځورول کېږي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com – info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)